انجنیر کلیوال ۲۰۱۷/۰۹/۰۱

# اختر د نن پرون

پرون مونږ ته اختر د خوشالو سره راتلو په ونو د چنار کی د تالو سره راتلو
پرون زمونږ اختر د خندا ګانو ځنی ډک و په ټول افغانستان کی د ګلانو ځنی ډک و
ځوانانو، ماشومانو ته میلو سره راتلو پرون مونږ ته اختر د خوشالو سره راتلو
پرون به په اختر کی تګ راتګ مبارکی وی زلمیان پکی ښایسته او ښایسته به جنکی وې
د خوارو کورته هم نوو جامو سره راتلو په ونو د چنار کی د تالو سره راتلو
پرون به په اختر کی مرور پخلا کیدل غمونه خپګانونه ټول له مخی ختمیدل
په ژمی کی هم دلته ګل غونچو سره راتلو
پرون مونږ ته اخترد خوشالو سره راته

** * **

نن هم راځي اختر خو د ژړا سره راځي هر کور د مسلمان ته د غوغا سره راځي
نن غم راوړی د ځان سره راوړی راته ماتم خلاص نوی یو ماتم راوړی بل نوی راته غم
کالـه د هر افغان ته واویلا سره راځي هر کور د مسلمان ته د غوغا سره راځي
مونږ غوارو د الله(ج) نه اخترونه پخوانی خوښی او خوشالی او آتنونه پخوانی
چی کله به اختر مونږ ته خندا سره راځي
هر کور د مسلمان ته په ربنتیا سره راځي

** * **



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

د اختر د پاره یو څو څلوریځی:

همزولو خوښي و کړی بیا اختر راغلی دی    له ډیرو مودو وروسته مرور راغلی دی

راوړی یی د ځان سره د مینی سوغاتونه    کوڅو ته د خوارانو بختور راغلی دی

** * **

اختر راغلی دی ملګرو ځی میلو تـه لاړ شو

د ګران وطن د غرو له څوکو نه سیلو تـه لاړشو

تاو شو را تاو شو د وطن د لوړو غرو په سرو

چی سوزیدلي د جنګ اور کی دی درو ته لاړشو

** * **

تل دی اختروی د خوښی د هر افغان کاله کی

نوری دی نه وی ژړا ګانی د جانان کاله کی

ویره دی ورکه له نړی شي وي تباه دی کرکه

انسانی مینه دی ژوندی وی د انسان کاله کی

** * **

چی تویه نه شي د "افغان" وینه

د "افغان" کور کی د انسان وینه

مونږ ته نصیب کړی ربه هسی اختر

چی په کی حس کړو د جهان مینه

** * **

د اکست/۱۸/ ۲۰۱۷

تورنتو ــ کانادا